# الازهر د مسلمانانو لپاره کومه باوري مرجع نه ده، ځکه دوی د مصر فرعوني نظام ته د وفادارۍ له لارې د الله سبحانه وتعالی د احکامو پر نه پلي کېدو باندې غلي دي

الازهر په پاکستان کې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه د پاکستان د جمهور ریس ډاکتر عارف علوي په غوښتنه د جمعې د لمانځه د ځنډولو فتوا خپره کړه. جمهوریس د ۲۰۲۰م کال د مارچ په ۲۵ مه د ټویټ له لارې وویل: «زه د الازهر له لوی شیخ او عالي شورا څخه منته کوم چې زما شخصي غوښتنې ته یې ځواب راکړ او موږ ته یې د کرونا ویروس د شتون تر وخته په مسجدونو کې د فرض جماعت او د جمعې د لمانځه په اړه لارښوونه وکړه.»

الازهر په خپره شوې فتوا کې د جمعې د لمانځه لغوه کول واجبي بللي او د هغې دلیل یې د مسجد څخه د هغه کس ممانعت بللی چې له خولې څخه یې د پیازو او هوږې بوی ځي. په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿مَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا أُولَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾**

**ژباړه:** *او له هغه چا څخه به غټ ظالم څوک وي چې د الله سبحانه وتعالی په عبادت ځایونو «مسجدونو» کې د الله سبحانه وتعالی د نوم اخیستنې منع کوي او د هغه د ورانولو په هڅه کې وي؟ دغه خلک ددې وړ نه دي چې په دې عبادت ځایونو «مسجدونو» کې قدم کېږدي او که ور هم شي نو سخته وېره به ورسره وي. ددوی لپاره په دنیا کې رسوایي او په اخرت کې لوی عذاب دی. [بقره:۱۱۴]*

اوس پر کوم نظر باور وشي!؟ د الازهر پر نظر چې مسجد ته د تګ پر ممانعت باندې یې یو دروغجن دلیل «د مونځ کوونکي د خولې بد بوی» بللی او یا هم د الله سبحانه وتعالی پورتنی ایات چې د لمر په شان روښانه دی!؟ ایا الازهر او هغه څوک چې د دغه فتوا د ترلاسه کولو په هڅهکې دي فکر کړي چې امت له علماوو بیخي محروم دی؟ په داسې حال کې چې یوازېخپله پاکستان کې زیات شمېر علما موجود دي. ایا دا جواز لري چې له یوې داسې ادارې فتوا واخیستل شي چې د وخت د فرعون «السیسي» په چوپړ کې ده!؟ موږ به څنګه له یوې داسې

اداري څخه د دين په اړه د امن او ځيرکتيا تمه ولرو څوک چې له هغه واکمنانو څخه ملاتړ کوي چې دين ته ضرر رسوي. هغه اداره چې د الله سبحانه وتعالی د هغه احکامو پر نه پلي کېدلو باندې غلې ده چې الله سبحانه وتعالی د الکينانه (مصر) په هېوادکې نازل کړي دي، هغه اداره چې تل يې د الله سبحانه وتعالی د کتاب «قران» او د رسول الله صلی عليه وسلم د سنتو خلاف فتواګانې خپرې کړې دي. د مثال پر ډول هغه فتوا چې د ښکېلاکګر يهودي دولت سره يې د کېمپ ډېوېډ د تړون اجازه ورکړه، هغه فتوا چې د فلسطين په سپېڅلې خاوره کې يې د يهوديانو د حق پر رسميت پېژندلو اجازه ورکړه، هغه فتوا چې د سود «ربا» اجازه په کې ورکړل شوې، هغه فتوا چې اوسني حاکم غير اسلامي نظامونو ته په کې مشروعيت ورکړل شو ....او داسې نورې!؟ نو پر داسې يوه فتوا څنګه باور وشي چې د قياس په اساس رامنځته شوې وي په داسې حال کې چې په عبادت کې قياس ته هېڅ اجازه نه ده ورکړل شوې!؟ ايا الازهر او د پاکستان ولسمشر فکر کړي چې دغه فتوا به د پاکستان خلک او علما په پټو سترګو ومني!؟ په حقيقت کې دا د ريښتينو علماو پر ذهن او فکر د ملنډو وهل دي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د پاکستان ريس جمهور غواړي چې د مسجدونو پر تړلو سره د خلکو روغتيا ته د پاملرنې په اړه د دولت بې پروايي او ناکامي پټه کړي. دولت د کرونا ويروس تر راتګ وړاندې خلکو ته د روغتيايي سهولتونو په برابرولو کې پاتې راغلی وو. رژيم په عادي حالاتو کې هم د خلکو د درملنې وړتيا نه لري او دا ډول ستونزمن حالات خو د دوی لپاره بلکل استثنا دي! ګرزبنديز او د مسجدونو تړل په دې موخه ترسره کېږي ترڅو خلک د رژيم د ماتې او اداري فساد له بله اړخه بې خبره وساتل شي.که چېرې رژيم د الله سبحانه وتعالی په کتاب کې هغو احکامو ته اهميت ورکولی چې د مسجدونو د تړلو د ممانعت په اړه راغلي دی نو دوی به د دغې موضوع په اړه ژور فکر کړی وی. که په حقيقت کې دوی له الله سبحانه وتعالی څخه وېرېدلی نو داسې ګامونه به يې پورته کړي وو چې پر ناروغۍ باندې د لمونځ کوونکو د اخته کېدلو مخه پرې نيول شوې وی. لکه د اوږدو صفونو او د هغې تر شا صفونو ترمنځ د فاصلې مراعاتول، د معياري ماکسونو وېشل، د جمعې د خطبې لنډول او د لنډ وخت لپاره سپين ږيري او ناروغان له مسجد څخه لرې ساتل... او داسې نور.

مسجدونه د الله سبحانه وتعالی کور دی او څوک چې شفا او علاج غواړي نو له الله سبحانه وتعالی څخه يې د وغواړي ځکه هغه يوازينی شفا ورکونکی دی. د ناروغۍ او مصيبت په وخت کې تر ټولو ښه لاره د الله سبحانه وتعالی کور «مسجد» ته رجوع کول دي. هلته موږ الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو ترڅو مو له درد او مصيبت څخه وژغوري. د مسجدونو تړل که د يوې ورځې لپاره هم وي هغه ګناه ده چې له نورو ګناهونو سره مو يو ځای کېږي ځکه په مسجدونو کې موږ تر هر بل وخت الله سبحانه وتعالی ته ډېر نيږدې کېږو او هغه ته توبه کوو.

هو هغه څه چې تر دې هم موږ ډېر الله سبحانه وتعالی ته نېژدې کوي د نبوت پر منهج باندې د خلافت د تاسيس په موخه کار کول دي، ترڅو د الله سبحانه وتعالی له لوري نازل شوي احکام پلي شی، په دې ډول به الله سبحانه

وتعالی له موږ څخه راضي شي او موږ به د ټولو دردونو او مصیبتونو څخه په امن شو. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دی:

**﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾**

**ژباړه:** *په وچه او لمده کې د خلکو د لاسونو پر عملونو سره فساد ښکاره شوی دی، نو الله سبحانه وتعالی پر دوی باندې د هغو عملونو د سزا خوند څکي چې دوی ترسره کړې دي، ښایې چې دوی الله سبحانه وتعالی ته رجوع وکړي. [روم: ۴۱]*

## حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

**هجري قمري نېټه: ۱۴۴۱هـ.ق کال، د شعبان ۲ مه**

**مېلادي نېټه: ۲۰۲۰م کال، د مارچ ۲٦مه**

**د صدور شمېره: ۵۱/۱۴۴۱**